# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**9حمل_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**د مهاجرینو وزارت او دوو موسسو ترمنځ د څه باندې۲ میلیونه ډالرو په ارزښت د همکاری درې هوکړه لیکونه لاسلیک شول 1**

**وزارت امورمهاجرین با دوموسسه امداد رسان، تفاهمنامه های همکاری امضا کرد----------------------------------2**

**نزدیک به ۱۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود-----------------------------------------------------2**

**ننګرهار کې له سلګونو کورنیو سره نغدي او د خوراکي توکو مرسته وشوه------------------------------------------3**

**بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند -------------------------------------3**

**واکنش‌ها به تصمیم پاکستان مبنی بر از سرگیری اخراج مهاجران افغان ---------------------------------------------3**

**پاریس کې د کمپونو تخلیه: پولیس «د شپې په تیاره کې له کمرو څخه لرې» له کډوالو سره ناوړه چلند کوي----------5**

**ملګري ملتونه: د کډوالی پر لار له نیمایي ډېر کډوال په سمندر کې مړه شوي-----------------------------------------7**

**جان باختن بیش از ۱۱۰۰ افغان در مسیر مهاجرت طی سال گذشته--------------------------------------------------8**

**شمار فزاینده مهاجران افغان خود را به مرز امریکا می‌رسانند -------------------------------------------------9**

**بیش از ۶۳ هزار نفر در راه مهاجرت جان باخته یا ناپدید شدند -------------------------------------------------9**

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو وزارت او دوو موسسو ترمنځ د څه باندې۲ میلیونه ډالرو په ارزښت د همکارۍ درې هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او دوو موسسو، د بشري مرستو د همغږۍ موسسې او د جاپان بېرنۍ موسسې ترمنځ د ۲ میلیونه ۶۰۰ زره ۳۴۱ امریکایي ډالرو په ارزښت د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک شول.**

**د دې هوکړه لیکونو له مخې، د بشري مرستو د همغږۍ موسسه د کابل، پروان، کاپیسا، پنجشیر او لوګر ولایتونو په ۱۵ زره ۲۶۸ کورنیو باندې د نغدي مرستو د وېش او څو اړخیزه وېش د بهیر د مدیریت په لړ کې په ټولیزه توګه ۲ میلیونه ۱۶۴ زره ۴۷۵ ډالره وېشي او په میدان وردګو، پکتیا، پکتیکا، خوست او غزني ولایتونو کې یو زرو ۹۰۰ تنو سره په مرسته کې به پورتنۍ پیسې ولګوي.**

**دغه راز د جاپان بېرنۍ موسسه په ننګرهار ولایت کې پر  یو زرو ۵۴۲ کورنیو د ۴۳۵ زره ۸۶۶ ډالرو په ارزښت د ۹ ډوله خوراکي توکو کڅوړې وېشي.**

**دا هوکړه لیکونه د وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د پورته دوو موسسو د استازو له خوا لاسلیک شول**



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## وزارت امورمهاجرین با دوموسسه امداد رسان، تفاهمنامه های همکاری امضا کرد

آژانس اطلاعاتی باختر




**وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با دو موسسه امداد رسان که از سوی چاپان تمویل می شوند، تفاهنمامه های همکاری امضا کرد .**

**دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان امروز با نشر این خبر گفته است: به اساس تفاهم نامه یاد شده، موسسه هماهنگی کمک های انسانی در مجموع ۲ میلیون یک صدو ۶۴ هزار و۴۷۵ دالر را در بخش های توزیع کمک نقدی و مدیریت پروسه توزیع چند منظوره برای ۱۵ هزار و ۲۶۸ خانواده در ولایات کابل، پروان، کاپیسا، پنجشیر، لوگر و میدان وردک، و برا ی یک هزارو ۹۰۰ تن در ولایات پکتیا، پکتیکا خوست و غزنی به مصرف می رساند. به همین ترتیب موسسه اضطراری جاپان ۴ صدو ۳۵ هزار و ۸۶۶ دالر را در بخش توزیع بسته های غذایی که شامل ۹ قلم می باشد برای یک هزار و ۵۴۲ خانواده در ولایت ننگرهار به مصرف خواهد رسانید**

**تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت و نماینده های دو موسسه یاد شده به امضا رسید.**

## نزدیک به ۱۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۹۸ تن مهاجر افغان به تاریخ ۷ حمل از خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۱۹ خانواده که شامل ۹۸ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت ریاست  مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## ننګرهار کې له سلګونو کورنیو سره نغدي او د خوراکي توکو مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت

د ننګرهار ولایت په اوومه ناحیه کې پر ۵۱۴ راستنېدونکو، معلولینو، اړمنو او بې سرپرسته کورنیو نغدي او خوراکي توکي ووېشل شول

دغه کورنۍ له دې وړاندې هلته د مهاجرینو ادارې له خوا په مرکز او ولسوالیو کې اړمنې پېژندل شوې وې.

دا مرسته له ۱۳۲ کورنیو سره په دوو پړاوونو کې ۱۸زره او ۱۵ زره افغانۍ، له یوې روغتیایي کڅوړې سره مل د مهاجرت نړیوال سازمان له خوا شوې وه

 او په غني خېلو او لعلپورې ولسوالۍکې له ۳۸۲ راستنېدونکو کورنیو سره د ۵ ډوله خوراکي توکو مرسته د خوړو نړیوال سازمان له خوا او د مهاجرینو ادارې په ملتیا او څارنه ووېشل شوه.

## بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت

یک هزار و ۷۱۶ نفر مهاجر مقیم ایران به تاریخ  ۷ حمل ازطریق مرز اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.

به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۵۱۸ نفر ایشان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.

۶۷ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی، برای ۲۷ خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی، برای ۴۹ تن  سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.

و تعداد ۲۱۷ تن از خدمات صحی بهره مند شده اند.

## واکنش‌ها به تصمیم پاکستان مبنی بر از سرگیری اخراج مهاجران افغان

طلوع نیوز

امارت اسلامی اخراج مهاجران را خلاف میثاق‌های جهانی خوانده و گفته است که حکومت پاکستان باید این تصمیم را بازنگری کند.




**تصمیم حکومت پاکستان مبنی بر از سرگیری اخراج مهاجران افغان واکنش برانگیز شده است.**

**امارت اسلامی اخراج مهاجران را خلاف میثاق‌های جهانی خوانده و گفته است که حکومت پاکستان باید این تصمیم را بازنگری کند.**

**ذبیح‌الله مجاهد سخن‌گوی امارت اسلامی در این باره گفت: «اخراج اجباری به هر عنوانی که باشد، از طرف هر کشوری که باشد، غیرقانونی است و خلاف نورم‌های پذیرفته‌شده دنیا است و باید این‌چنین چیزی اتفاق نیفتد چون مردم افغانستان به‌خصوص مهاجرین مشکلات زیادی را دیده‌اند و نباید بیش‌تر دچار مشکلات شوند«.**

**همزمان با این سازمان عفو بین‌الملل با ابراز نگرانی از اخراج مهاجران افغان از حکومت پاکستان خواسته است این روند را متوقف کند.**

**این نهاد نوشته است: «عفو بین‌الملل از تصمیم دولت جدید برای ادامه اخراج پناهجویان افغان، از جمله دارندگان کارت شهروندی افغان یا (ACC) به شدت نگران است«.**

**به گفته‌ی برخی نهادهای مدافع حقوق مهاجران افغان در پاکستان، حکومت آن کشور در این مرحله سیاست‌های سخت‌گیرانه را در قبال مهاجرانی که دارای کارت "ای‌سی‌سی" یا کارت شهروندی افغانستان اند، پیش گرفته است. این روند نگرانی‌هایی را میان مهاجران دارای مدرک نیز ایجاد کرده است.**

**میراحمد رووف رییس شورای مهاجران افغان در پاکستان به طلوع‌نیوز گفت» :با آن عده مهاجرینی که قبل از ۱۵ اگست ۲۰۰۱ در پاکستان از طرف دولت و UNHCRکارت‌های POR و ACC توزیع شده بود معیاد آن الی آخر ماه مارچ ختم می‌شود. نظر به تصمیم دولت این مهاجرین باید از پاکستان اخراج شوند«.**

**عتیق‌الله عضو مدافعان مهاجران افغان در پاکستان می‌گوید: «یک تعداد کثیری افغان‌ها را جبرن اخراج نمودند و دوره دوم اخراج عنقریب در کم‌تر از یک ماه شروع می‌شود. تا حال خاموشی حکومت فعلی افغانستان نشان سوالیه است«.**

**پاکستان در اول ماه نوامبر سال گذشته تصمیم اخراج مهاجران افغان را عملی ساخت؛ مساله‌ای که سبب تیرگی روابط میان کابل و اسلام‌آباد نیز شد.**

**قرار است روند دوم اخراج مهاجران افغان از پاکستان تا کمتر از یک ماه دیگر آغاز شود.**

## پاریس کې د کمپونو تخلیه: پولیس «د شپې په تیاره کې له کمرو څخه لرې» له کډوالو سره ناوره چلند کوي

مهاجرنیوز



**په ټولنیزو رسنیو کې یوه خپره شوې ویډیو کې لیدل کېږي چې یو شمېر امنیتي ځواکونه د پاریس په شمال کې د شپې په درېیو بجو د کډوالو د ویده کولو لپاره له تېزو لاسي څراغونو کار اخلي. کارپوهان وايي چې د اولمپیک سیالیو په را رسېدو سره «د شپې له خوا او له کمرو څخه لرې» د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي دلیل دا دی چې پولیس غواړي د منفي تبلیغاتو مخه ونیسي.**

**دا لومړی ځل نه دی چې خپلسرو کمپونو کې کډوال د امنیتي ځواکونو له خوا ناڅاپه ویده کېږي او یا له پنډغالو ایستل کېږي. یو افغان کډوال د مارچ په ۲۴مه د یو شمېر امنیتي ځواکونو ویډیو اخیستې ده. حق ته د لاسرسي ټولنې په وینا چې دغه ویډیو یې خپره کړې ده، امنیتي ځواکونه یو شمېر مهاجر چې د پاریس په شمال کې تر یو پل لاندې یې خوب کړی و د تېزو لاسي څراغونو په کارولو ویده کوي.**

د یادې ټولنې غړې فاني کډوال نیوز سره خبرو کې وایي: «دغه افغان کډوال ژورپس سیمه کې د سین په اوږدو کې خوب کړی و. پولیسو د لاسي څراغونو په کارولو ویده کړل. د شپې دوه نیمې یا درې بجې وې.» هغه زیاتوي: «کډوالو اعتراض وکړ، خو ګاز پرې وشیندل شو او پر وړاندې یې له تاوتریخوالي څخه کار واخیستل شو. دوی ویل چې بله سرپناه نه لري. یو ځوان کډوال چې په تنګ راغلی و خپلې خیمې ته اور واچاوه. پر ټولو وسایلو یې ګاز شیندل شوی و«.

په ویډیو کې اورېدل کېږي چې امنیتي ځواکونه چغې وهي: «و پاڅېږئ، و پاڅېږئ.«

حق ته د لاسرسي ټولنې د ۲۰۲۳ په نومبر کې د یو راپور په خپرولو سره لیکلي وو چې د کمپونو د تخلیې عملیاتو په ترڅ کې د کډوالو پر وړاندې له فزیکي او لفظي تاوتریخوالي څخه کار اخیستل کېږي. له ۲۰۱۵ راهیسې دغې ټولنې د پولیسو له خوا د تاوتریخوالي د ۴۴۸ پېښو په اړه شهادتونه راټول کړي چې ۸۸ سلنه یې د تخلیې یا تیت او پرک کولو پر مهال رامنځته شوې دي. په ځینو مواردو کې د کډوالو پر وړاندې له فزیکي تاوتریخوالي کار اخیستل شوی او په ځینو نورو مواردو کې بیا د کډوالو وسایل ضبط یا ویجاړ شوي دي.

»تاوتریخوالی ډېر زیات شوی نه دی«

دغه حالت تر ډېره د شپې له خوا رامنځته کېږي. د ټولنیزو علومو د لوړو زدکړو موسسې د ډکتورا محصلې اوریان سبیلوت چې د کډوالی په اړه تحقیق کوي وايي، دا وضعیت په بشپړه توګه مستند شوی نه دی. هغه زیاتوي: «دا پېښې د شپې له خوا رامنځته کېږي او له کمرو څخه لرې، د خلکو د سترګو لیدلو حالونو راټولول اسان نه دي. له همدې وجې د پولیسو د تاوتریخوالي کچې معلومول سخت کار دی .ځینې کسان د دغو پېښو په اړه څه نه وايي ځکه چې له متقابل عمل څخه ډارېږي، ځینې نور د ویډیو اخیستلو او یا د ثبوت د راټولو لپاره کافي وخت نه لري«.

نوموړې وايي: «مهمه مسله دا ده چې معلومات مو کامل نه دي. زما په آند د پولیسو له خوا د کډوالو پر وړاندې تاوتریخوالي کې ډېر زیاتوالی نه دی راغلی دی، خو سازمانونه هڅه کوي چې په منظمه توګه د دې پېښو په اړه راپور ورکړي. موږ همدومره پوهېږو چې له تېرو ۸ کلونو راهیسې تاوتریخوالی شته او دا کومه نوې خبره نه ده«.

خو ځینې کډوال بیا بل نظر لري. شپاړلس کلن ګینیایي کډوال شریف چې په یو خپلسر کمپ کې یې ژوند کاوه تېر ژمي کډوال نیوز ته ویلي وو: «پولیس ځینې وختونه راځي. ګوري چې کومه ستونزه شته که نه، خو له تاوتریخوالي څخه کار نه اخلي... موږ له بدو هېوادونو څخه تېر شوي یو .مراکش او تونس کې پولیس ځکه کډوال وهي ډبوي چې تور رنګه دي«.

»د اولمپیک سیالیو مخکې د منفي تبلیغاتو مخنیوی«

اوریان سبیلو وايي: «زه فکر نه کوم چې تاوتریخوالی نهادي شوی وی، مانا یې دا ده چې د پولیسو یوه ډله په یوه مشخصه شېبه کې له تاوتریخوالي څخه کار اخلي «.هغه زیاتوي چې پولیوس نه غواړي د اولمپیک سیالیو په را رسېدو سره «منفي تبلیغات» ایجاد کړي.

د ۲۰۲۰ د نومبر په ۲۳مه د پاریس په ریپوبلیک ډګر کې یو شمېر کډوال د پولیسو له لوري او د کمرو مخکې له خپل پنډغالي څخه وایستل شول. هغه مهال د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن د ځینو پولیسو افراطي چلند «شخصي «وباله. د تخلیې عملیاتو په ویډیوګانو کې لیدل کېدل چې ځینې کډوال وهل کېږي او یا له خیمو په زوره ایستل کېږي.

اوریان سبیلو وايي ډېری وختونه تاوتریخوالی «نامستقیم» دی او د کډوالو له اړتیاوو سره تړاو لري: لکه د هغوی پر وسایلو ګاز شیندل، یا د لاسي څراغونو په کارولو سره یې ویده کول.

له تېرو څو کلونو راهيسې مرستندويه سازمانونه وايي چې پر پاريس سربېره د هېواد په نورو سيمو لکه کالې کې هم د کډوالو پر وړاندې له تاوتريخوالي کار اخيستل کېږي. په ۲۰۲۱ کې د بشري حقونو څار سازمان ويلي وو چې د کډوالو کمپونه په هرو ۴۸ ساعتونو کې يو ځل تخليه کېږي. دمګړی دنکرک او بولونی سور مېر کې شاوخوا ۱۰۰۰ کډوال ژوند کوي چې ډېری يې وايي د تاوتريخوالي قربانيان دي.

## ملګري ملتونه: د کډوالی پر لار له نيمايي ډېر کډوال په سمندر کې مړه شوي

مهاجرنيوز



د کډوالی نړيواله اداره يا آی او ايم وايي چې په تېره لسيزه کې تر نيمايي ډېر کډوال په سمندر کې مړه شوي دي. د يادې ادارې د راپور له مخې، تر ۲۷ زره ډېرو کډوالو يوازې په مديترانه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د کډوالی نړيوالي ادارې پرون سه شنبه د يو راپور په خپرولو سره وويل چې په تېره لسيزه کې تر ۳۶۰۰۰ زياتو کډوالو په سمندري لارو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

دغه سازمان په خپل راپور کې چې په تېرو لسو کلونو کې د کډوالو د مړينې او لادرکه کېدو پېښنې پکې ثبت شوې ليکلي دي چې «د خلکو د ژوند د ژغورلو په موخه په سمندر کې له اړمنو کډوالو سره د مرستې لپاره د لټون او ژغورنې ظرفيت بايد لوړ شي».
د کډوالی د نړيوالې ادارې د يوې پروژې له مخې چې «لادرکه شوي کډوال» نومېږي، له ۲۰۱۴ راهيسې په نړۍ کی تر ۶۳ زره ډېر کډوال مړه او يا لادرکه شوي دي. خو ګومان کېږي چې د معلوماتو د راټولو په برخه کې شته ستونزو ته په کتو سره دغه شمېرې له دې هم زياتې وي.

د راپور له مخې، د مړو شويو کډوالو له ډلې څخه شاوخوا ۶۰ سلنه يې د کښتيو د ډوبېدو پېښنو له امله ډوب شوي دي .همدارنګه زياتو کسانو د کښتيو ډله ايزو ډوبېدو پېښنو کې مړه شوي، خو جسدونه يې نه دي موندل شوي.

په سمندر کې د مړو شويو مهاجرو له ډلې ۲۷۰۰۰ تنو يوازې په مديترانه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. ډېری وختونه د شمالي افريقا هېوادونو وګړي پر دغه لار اروپا ته د اوښتو هڅه کوي. يادې ادارې زياتوي چې د زياتو مړو شويو کډوالو هويت نه دی څرګند چې دا د قربانيانو د کورنيو لپاره يو دردوونکی وضعيت دی.

دا هم ولولئ
ملګري ملتونه: ۲۰۲۳ په روانه لسيزه کې د کډوالو لپاره تر ټولو خونړی کال و

له جګړه ځپلو هېوادونو راغلي کډوال

زياته شوې ده چې د مړو شويو هرو درېو کډوالو يو يې له جګړه ځپلو هېوادونو سره تړاو لري. يادې ادارې ويلي دي چې «د دغي انساني فاجعې د مخنيوي لپاره خوندي او منظمو لارو ته» اړتيا شته.

تېر کال په نړۍ کې تر ۸۵۰۰ زياتو کډوالو د مهاجرت پر لارو خپل ژوند له لاسه ورکړی و چې له دې ډلې ۳۱۲۹ تنه يې يوازې د مديترانې په سمندرګي کې مړه يا لادرکه شوي دي. ملګرو ملتونو په روانه لسيزه کې ۲۰۲۳ د کډوالو لپاره تر ټولو خونړی کال بللی دی.

د تېر کال په جون مياشت کې د يونان په اوبو کې د کډوالو د يوې کښتۍ د ډوبېدو له امله سلګونو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. په دغه کښتۍ کې شاوخوا ۷۵۰ کسان سپاره ول چې له ډلې يې ۱۰۴ تنه ژوندي پاتې شول او د پاتو ۸۲ کسانو مړي وموندل شول.

## جان باختن بیش از ۱۱۰۰ افغان در مسیر مهاجرت طی سال گذشته

دویچه وله



در جریان سال ۲۰۲۳ میلادی بیش از ۱۱۰۰ افغان در مسیر مهاجرت جان خود را از دست داده اند. این رقم بیشترین میزان مرگ و میر مهاجران افغان در ده سال گذشته در مسیر مهاجرت را نشان می‌دهد .

عکس از آشیف: پناهجویان افغان پس از عبور از مرزهای افغانستان و پاکستان در حومه شهر زرنجعکس :

بر اساس یک گزارش سازمان بین المللی مهاجرت (آی او ام) که روز سه شنبه نشر شد، در جریان سال گذشته، ۱۱۸۱ پناهجوی افغان در مسیرهای مهاجرت جان شان را از دست داده اند. این رقم در سال پیشتر از آن به ۷۳۳ تن می‌رسید. این بیشترین تعداد مرگ و میر پناهجویان افغانستان در یک دهه گذشته در مسیر مهاجرت است.

شمار فزاینده مهاجران افغان خود را به مرز امریکا می‌رسانند
گزارش اشاره شده که بیشترین موارد مرگ و میر پناهجویان افغان یعنی ۱۰۶۸ مورد، در مسیر راه ایران اتفاق افتاده است.
گزارش حاکی است که این رقم پس از بررسی داده‌ها در مورد پناهجویان بازگردانده شده، به دست آمده و به این معنی نیست که این مسیر مرگبارترین برای پناهجویان افغان باشد

## بیش از ۶۳ هزار نفر در راه مهاجرت جان باخته یا ناپدید شدند

دویچه وله



سازمان بین‌المللی مهاجرت به روز سه شنبه گزارش داده است که دست کم ۶۳ هزار و ۲۸۵ نفر در مسیر مهاجرت در سراسر جهان میان سال‌های ۲۰۱۴ و ۲۰۲۳ جان باخته اند و یا ناپدید شده اند. بیشترین این افراد در آب‌ها غرق شده اند

نزدیک به ۶۰ درصد موارد ثبت شده مرگ و میر، مرتبط با غرق شدن بوده استعکس :

یک گزارش سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM) که در مورد مهاجران ناپدید شده نشر شده است، نشان می‌دهد که اکثریت موارد مرگ و میر و ناپدید شده‌ها، در بحیره مدیترانه و بعد در آسیا و افریقا اتفاق افتاده است. آمار حاکی است که تنها ۲۸ هزار ۸۵۴ نفر در بحیره مدیترانه غرق شده اند.

نزدیک به ۶۰ درصد موارد ثبت شده مرگ و میر، مرتبط با غرق شدن بوده است و بیش از یک سوم آن‌ها مربوط به کشورهای درگیر منازعه مانند افغانستان، میانمار، سوریه و اتیوپیا می‌شود.

داده‌های سازمان بین‌المللی مهاجرت نشان می‌دهند که مرگبارترین سال برای مهاجران در دهه اخیر، سال ۲۰۲۳ بوده است که در آن۸۵۴۱ مورد مرگ ثبت شده است و عامل آن افزایش شدید تلفات در بحیره مدیترانه بوده است

این گزارش توضیح داده است: «افزایش مرگ و میر احتمالاً مرتبط با افزایش موارد سفر و از این رو غرق شدن کشتی‌ها در برابر ساحل تونس بوده است». در این گزارش افزوده شده است که دست کم ۷۲۹ نفر در سواحل تونس جان باخته اند .در سال ۲۰۲۲ شمار جان باختگان ۴۶۲ نفر بوده است: «در همه سال‌های قبل، اکثریت موارد مرگ و میر در بحیره مدیترانه مرکزی در سواحل لیبیا ثبت شده است«.

از آنجایی که احزاب ضد مهاجرت از سال‌ها به این سو در سرتاسر اروپا پیوسته نفوذ کسب می‌کنند، حکومت‌ها تلاش کرده اند تا موج مهاجرت را با ارایه کمک‌های مالی به کشورهای نزدیک به بحیره مدیترانه مانند تونس و مصر مهار کنند.

اوایل این ماه اتحادیه اروپا تعهد کرد که ۷،۴ میلیارد یورو، معادل ۸ میلیارد دالر بسته کمکی را به مصر می‌دهد و جورجا میلونی، نخست وزیر ایتالیا آن را به عنوان «بهترین راه برای غلبه بر جریان مهاجرت» توصیف کرد

حکومت‌های کشورهای متعدد اروپا، به شمول ایتالیا، هنگری و بریتانیا، مهار کردن مهاجرت را در بالاترین سطح اولویت‌های شان قرار داده اند. در همین حال احزاب افراطی دست راستی مانند «جبهه ملی فرانسه» به رهبری مارین لوپن محبوبیت زیادی کسب کرده اند.

رهبران مذهبی از جمله کسانی هستند که به همدردی بیشتر نسبت به مهاجران فراخوانده اند. پاپ فرانسیس خواستار یک اقدام سرتاسری اروپا شمول به مهاجرت برای جلوگیری از تبدیل شدن بحیره مدیترانه به «بحیره مرگ» شده است.